# اډوبي ایلسټریټر

(پیژند ګلوي)

اډوبي ایلسټر یټر د اډوبي شرکت یو مشهورپروګرام دیچې د دې پروګرام شهرت ورځ په ورځ زیاتیږي. په کسبي چاپیریال لکه د اعلاناتوپه شرکتونو ، د تولیداتو په شرکتونو ، ټي وي چینلونو کې او چېرته چې هم د ګرافیک ډیزایننګ( اوډون)، پرنټنګ( چاپ)، السټریشن اونور ورته تړلي کارونه تر سره کیږي هلته ایډوبي ایلسټریټر ل کارول کیږي او زیاتره مینه وال په اډوبي ایلسټریټر باندې ترسره شوي کارونه ډېر خوښوي.

ایډوبي ایلسټریټر په بنسټېزه توګه یو ویکټر ګرافیک(vector graphic )پروګرام دیچې د ویکټر ګرافیک په اړوند به موږ وروسته خبرې وکړو.

په دې لیکنه کې به زما موخه دا وي چې تاسو ته د اډوبي ایلسټرېټر په اړوند د بنسټیزو معلوماتو سره سره دعملي تمرینونو او بېلګو له لارې بشپړه لارښونه وکړم اوکه خدای کول د دې کار په پای کې به به تاسو په اډوبي ایلسټر یټر باندې پوره پوره لاس رسی ولرئ.

اډوبي ایلسټرېټر په بنسټېزه توګه ویکټر بیس لکه عنوانونه ( سر لیک)، ویزیټینګ کارډ، پریس ایډ، لوګو ډیزایننګ او د کارټون ایلسټریشن په ښیر کارونو لپاره یو غوره پروګرام دی او زیاتره D2 کارټون انیمیشن لپاره کارټون کریکټرهم په ایډوبي ایلسټریټر کې جوړیږي.

موږ دلته په ټولو لوستنو کې د ایډوبي ایلسټریټر سي ایس ۲( 6CS) نسخه کارولې ده.

## د ویکټرګرافکس او ریسټرګرافکس تر منځ بنیادي توپیرونه

